مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولي ارين

۲۰۲۰/۰۳/۱۹

# خــدایــه ولــي پسرلـــی او ویــر پـه ګډه؟

پسرلی راغـــی، ګـلــونـه پـه رغو کې
هــره خــوا خـاندي غوټۍ په شنو باغو کې

لالـــه زار د غـــرو لـمنـې هره خوا شوې
تـــور داغـــونـــه د لالــه ګـل تـتـــرو کې

بهار شته، ګلونه شته، خو تېر خوند نه شته
ځـکه غرق دی هـر افـغان په اندېښنو کې

انـــتـــظـــار د پسرلـي کـــــوو، د سولې
مـــګـــر راغـلـه کـــرونـــا هــوا ځپو کې

خـــدایـه ولـي پسرلـــی او ویـــر پـه ګډه؟
افــغـــانـــان شــول قـــاتــلان خپلو منځو کې

ربـــه بـــیـــا مـــو پسرلی، تـېر پسرلي که
چـــې هـر خـــوا وي بـلـــبـلان په الوتو کې

۲۰۲۰/۰۳/۱۹
اغوس
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ